مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجی محمد نوزادی

۲۰۱۸/۱۲/۳۰

# د لیاخوفسکی له نظره د ناورین پیل

## دوهمه برخه

## (د تیری لومړی برخی په تړاو)

هـــر یو مخ کله لایق وی د آبــرویو
اوښکی نه درومی پرمخ دهر ناولي
( رحمان بابا )

غواړم د بیلګی په توګه ددغو کسانو له ډلی نه د ښاغلی ګرومیکو خبری او دده دمخالفت استدلالونه ټکی په ټکی دکتاب دپښتو ژباړی نه چی د ښاغلي محب الرحمن پواسطه ترسره شویده ، رانقل اوبیائی په هکله څو کرښی څرګندوني وکړم : (

ا. ګرومیکو : زه په بشپړه توګه دملګري اندروپوف ددی وړاندیز نه ملاتړ کوم چی افغانستان ته دی دپوځونو دلیږلو په باب پریکړه نه نیول کیږی . هلته پر اردو ډاډ نشته . که زموږ اردو افغانستان ته ولاړ شی نو تیری کونکی به وګټل شو . هغه به هلته دچا پرخلاف جنګیږي ؟ ښکاره خبره ده چی دافغانستان دخلګو پرخلاف به جنګیږی او له هرچا ترمخه به پرخلګو ډزی کوی . ملګری اندروپوف بیخی پرځای وویل چی په افغانستان کی لا حالات انقلاب ته سم ندی چمتو او ټول هغه څه چی موږ په ډیرې سختې پدی وروستیو کلونو کی دوسلو دکمیت او داسی نورو په برخه کی ترسره کړل ، هغه به ټول پر اوبو لاهو شی . البته دابه دچین دپاره هم یو ښه سوغات شی . ټول ناپیئلې هیوادونه به زموږ پرخلاف راپورته شی . پر یوه خبره دا ډول ګام به ډیر سخت عواقب و لری . له کارتر ( دهغه وخت دامریکا اولسمشر. ژباړ. ) سره دلیونید ایلیچ ( برژنیف. ن. ) کتنه به پارچاو او دکال په پای کی د ژیسکاردستن راتګ به هم تر پوښتنې لاندی راشي . ښه ، موږ به له دی کارنه څه ګټه ترلاسه کړو ؟ یوازی افغانستان دهغه له اوسنې حکومت او وروسته پاتی اقتصاد سره چی هغه هم په نړیوالو چارو کی چندان وزن نلرې . له بله پلوه داهم باید له پامه ونه غورځوو چی موږ له حقوقی پلوه هم د پوځونو لیږل نه شو سپینولای . دملګرو ملتونو له اساسنامی سره سم دغه هیواد کولای شی له موږ نه دمرستې غوښتنه وکړی او له بهر نه دتیرې د تر سره کیدو په حالت کی موږ کولای شو چی هلته پوځونه ور ولیږو . خو افغانستان اوس له هیڅ ډول تیرې سره هم ندی مخامخ . اوس دا د هغوی کورنۍ خبره ده او هلته دخلګو یوه ډله له بلې سره په خپل منځی انقلابی شخړه اخته ده . برسیره پردی باید ووایم چی افغانانو لاتر اوسه په رسمی توګه له موږ نه دپوځونو دلیږلو په اړه کومه غوښتنه هم نده کړی . .....) که چیری دلیاخوفسکی په کتاب کی دسیاسی بیرو دغونډی دجریان نقل شوی پټ لاسوند ربښتینۍ او حقیقی وی ، نودخارجی چارو وزیر اندری ګرومیکو دیوه مجرب سیاست پوه او د بین الدول حقوقو دماهر په توګه د نښې منځ ویشتلې اویو لړ ډیر ضروری او دپام وړ واقعتونه ئی په ګوته کړیدي چی په لاندی کرښو کی به ورته اشاره وکړم :

الف - دی ډار څرګندوی او وایي چی که زموږ اردو افغانستان ته ولاړشی نو تیری کونکی به وګټل شی . ددی خبری ښکاره معنی داده چی دوی له وړاندی لا افغانستان ته داردو په لیږلو کی نور کرغیړن هدفونه په پام کی نیولی ، نه دثور دانقلاب په دفاع کی مرسته . کنه نو دیوه دوست هیواد اردو چی وبل دوست هیواد ته دنړیوالو نورمونو سره برابر ولیږل شی او هلته دهغه هیواد د ځمکنی بشپړتیا په ساتلو کی مرسته ورسره وکړی ، هیڅکله به هم تیری کونکی ونه ګڼل شی . همدا اوس اوس په ډیرو هیوادونو کی دنورو هیوادونو پوځی ټولګۍ او هډی شتون لری ، خو داچی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هلته ئی ځایی دولتونه راپرځولي ندی او خپل لاسپوځی ئی پرځای ورته کښینولي ندی ، نوهیچاهم دتیرې کونکو نوم ورباندی ایښی ندی .
ب - او که چیری بیا ددوی اردو هلته په افغانستان کی دنړیوالو نورمونو په چوکاټ کي مرستندویه چاری ترسره او دافغان حکومت ملا تړ وکړی ، نو ګرومیکو ته داسوال پیدا کیږی چی لدی کار نه به موږ څه ګټه ترلاسه کړو ؟ یوازی افغانستان دهغه له اوسنې حکومت او وروسته پاتې اقتصاد سره .
فکر کوم د ستونزی اصلی زنۍ په همدغی موضوع ( دافغانستان اوسنۍ حکومت ) کی پټ دی . که چیری ددوی اردو د افغان اوسنۍ حکومت په نسکورولو لاس پوری کړی ، نو طبعی ده چی تیریٔ کونکی به وګڼل شی ، داکار به دچین دپاره یو ښه سوغات شی ، ټول ناپیئلې هیوادونه به دشوروی پرخلاف راپورته شی ، ..... .... او لنډه داچی عواقب به ئی ورته ډیر ناوړه تمام شی . او که چیری نوموړی اردو دافغان حکومت سره دسولې په ټڼګښت کی قانونی او دوستانه مرسته وکړی، بیانو داحکومت د ازاد خیالو نورمحمد تره کی او حفیظ الله امین په مشریٔ ددوی ( دکرملین واکدارانو) په درد نه خوری . معلومیږی چی دهمدغی ستونزی له مخی د سیاسی بیرو غړو و افغانستان ته د اردو لیږلو په کارکی تصمیم نیولوته زړه نشو ښه کولای . دوی د اوس دپاره ښه دا ګڼل چی له دی نه تیر او انتظار وباسی . پدی موده کي به استخبارات ضربتی کار وکړی ترڅو دغه دوه نافرمانه او سرکښه مشران چی کرملین ته ئی تندیٔ پر سجده نه لګیږی ، په خپلو کی سره واچوی او یو په بل ئی وټکوی او فرمانبرداره لاسپوځی مشر ببرک کارمل ته لاره هواره کړی . پدی کی هیڅ شک نشته چی تره کې او امین دواړه دشوروی سره دټینګې دوستیٔ غوښتونکې وه او پدی کار باندی سخت نازیدله، خو د شوروی مشرانو ناسنجونکو کړنو وښوده چی دغو کسانو دا دوستی دمارشال ټیټو ( دیوګوسلاویا پخوانیٔ ازادخیاله مشر) په مقام کی غوښته، نه د دوبچیک (په چکوسلواکیا کی دشوروی لاسپوځیٔ مشر). ځکه نو لکه ګرومیکو چی وایی ، ددوی په مشریٔ ئی اوسنیٔ حکومت په درد نه خوری .
ج - دنړیوالو حقوقو دماهر په توګه ښاغلي ګرومیکو دا ټکي له پامه نه غورځوی چی دوی له حقوقی پلوه هم د جهانیانو په وړاندی افغانستان ته دپوځونو دلیږلو خبره سپینولای نشی ځکه چی له یوی خوا دملګروملتونو داساسنامی سره سم دافغانستان دولت لخوا ورڅخه دپوځی مرستی د غوښتلو په اړه یادونه هم نده شوې او دبل لوری دیوه هیواد لخوا د دغسی مرستې غوښتنه که وهم شی، دنړیوالو حقوقو له مخی یوازی هغه وخت قانونې او پر ځای ګڼل کیدلای شی چی دیوه دښمن هیواد لخوا تیریٔ وربانده شوی وی او پخپله ئی دمخنیوې وس ونلری . دشوروی حاکم ګوند دسیاسی بیرو غړیٔ او دخارجی چارو وزیر په ډانګ پیئلې توګه اعتراف کوی چی افغانستان خوله له هیڅ ډول تیرې سره دهیچا لخواهم مخامخ ندی او هرڅه چی په هغه هیواد کی تیریږی، دا ددوی خپل منځی کورنیٔ خبره ده . له دی پرته دی همدارنګه دسیاسی بیرو نورو غړو ته په ډاګه وایی چی افغانانو خولاتراوسه په رسمی ډول( قانونی وی یاغیر قانونی . ژباړ. ) له موږ نه دپوځونو د ورلیږلو پخاطر کومه غوښتنه هم نده کړی . دکتاب لیکوال ( لیاخوفسکی ) دهمدغه ټکې په اړه داړوند مخ په پایلیک (حاشیه ) کی ویوه واقعیت ته په اشاره کولو سره زیاتوی : ( ښایی دهمدغو خنډونو دپټولو له امله به وی چی افغانستان ته زموږ دپوځونو دلیږلو نه وروسته، پردیموکراتیک جمهوریت باندی دبهرنی تیریٔ افسانه رامنځته شوه ). لدی نه ښکاری چی شوروی واکمنانو هم دامنل چی دتلیفونی خبرو اترو په ترڅ کی دکوم هیواد دمشر لخوا دخپل ضرورت ښودنه یوه رسمی غوښتنه نده او دافغانی مشرانو لخوا د داسی رسمی غوښتنی سند چی پربنسټ ئی کرملین قانونی حق ترلاسه او هلته ته ۱۲۰زره کسیز پوځ ولیږی، هیڅکله هم نه شوروی واکداران اونه هم له هغوی نه وروسته دفدرالی روسیی ځای ناستی پدی توانیدلې دی چی نړیوالو ته ئی وړاندی او لکه ګرومیکو چی تشویش درلود ، خبره پری سپینه کړی .
دا وی ټولې هغه اوتې بوتې چی تر اوسه پوري یا دتلیفونې خبرو په بڼه او یاهم دشوروی سلاکارانو له قوله په اصطلاح د سند پنامه وړاندی شوی دی . نوربه وطنوال پخپله قضاوت وکړی . زما په خیال همدغه ټکیٔ دموضوع منځپانګه او د نښی منځ دی چی باید ورته په ټینګه پام واړول شي او په پوره غور وشنل شی .

د دوهمی برخي پای . نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ